# د پاکستان مېډیا او د هغې کردار

احمد نور

پاکستان دا وخت د جنګ په حالت کښې دے او پرائیوېټ ټي وي چېنلې د یو بل نه د مخکښې وتلو د پاره لګیا دي ټول اخلاقي او صحافتي اصول د پښو لاندې کوي. د خپل احتساب کولو هیڅ انتظام نۀ لري او چې کله حکومت هسې په اشاره کښې د صحافتي ضابطې جوړولو خبره وکړي نو دوي په صحافت د پابندۍ لګولو دومره چغې سورې جوړې کړي چې د حکومت ایوان هم په لړزان شي. په ټوله دنیا کښې د داسې بې سره ازادې مېډیا مثال ښېخي نشته کومه چې په پاکستان کښې ده.




وړومبے د مختلفو ډلو په لاسونو کښې لوبېږي او دهشت ګردو نه هیروګان جوړوي او چې کله هغوي زورور شي او دړکې ورکول شروع کړي نو دوي بیا د خپلو دې سالارانو داسې خلاف شي لکه چې دوي هم د حکومت یوه برخه وي. وړومبے وائي چې د دهشت ګردۍ خلاف جنګ زمونږ نۀ دے بلکې دا د امریکې جنګ دے خو چې کله ئې خبره خپل سر له راشي نو بیا چغې کړي چې دا زمونږ خپل جنګ دے. وړومبے د امریکې نه ګیلې کوي چې هغوي په دې مشترکه جنګ کښې د پاکستان امداد نۀ کوي او چې کله امریکه امداد (کېري لوګر بل) ورکوي نو بیا وائي چې دا امداد زمونږ په ملکي خودمختارۍ حمله ده. کۀ امریکه د دې خبرو د غازیانو د تنقید نه تنګه شي او وائي چې کۀ امداد اخلئ نو واخلئ ګني خپل کار کوئ نو بیا جارحانه لوبه پرېږدي او دفاعي پوزیشن اختیار کړي او هیڅ مناسب جواب ورسره نۀ وي.

وړومبے وائي چې بد ترین جمهوریت د بهترین اٰمریت نه ښۀ وي او چې کله جمهوریت راشي او هغه لا مضبوط شوے نۀ وي نو دوي پرې ګوزارونه شروع کړي. د عوامو ډېره اهمه مسئله چیني، اوړۀ، ګېس، ګراني او بې روزګاري ده خو د دوي ټول وخت د سیاسي بیانونو په ذریعه د فائدو

حاصلولو او د این آر او کېږي لوګر یا دغه قسمه ځۀ بله نان ایشو باندې په تنقید کولو تېرېږي.

ځۀ چې خپله وئیل غواړي هغه د نورو خلقو د خُلو نه د وېستلو کوشش کوي او چې کله په دغې کښې کامیاب نۀ شي نو بیا وائي چې د خلقو وېنا ده چې حکومت ناکامه شوے دے. د طالبانو باره کښې وائي چې هغوي د حکومت عملداري چېلنج کوي او خپله په حکومت دننه ئې خپل حکومت جوړ کړے وي او ناظرینو ته بې مطلبه تجزیې او اندازې په داسې طریقه پېش کوي لکه چې د دوي نه زیات علم په معاشره کښې د بل هیچا سره نشته.

د ټي وي چېنلو دا شاهینان وائي چې بهرني طاقتونه پاکستان ماتول غواړي خو په مختلفو طریقو په پوهه یا ناپوهۍ دا کار خپله تر سره کوي. نۀ پخپله ځان له ځۀ صحافتي اصول وضع کوي او نۀ بل د خپل ځان دپاره ځۀ اخلاقي ضابطې جوړولو ته پرېږدي. خپل ځانونه هر فن مولا ګڼي خو تر اوسه ئې دا خبره فېصله کړې نۀ ده چې دهشت ګردو ته طالبان وئیل پکار دي یا دهشت ګرد وئیل، شدت پسند ته شدت پسند وئیل پکار دي کۀ انتها پسند. دوي دا خوښوي چې خلق دې دوي د ریاست څلورمه ستن وګڼي خو د باقي درېو ستنو په راغورځولو کښې د لږ ځنډ نه هم کار نۀ اخلي. هسې دوي دي خو صحافیان ولې د خپلو صحافیانو وروڼو د مسئلو د حل او د هغوي د خبر ښېګړې هیڅ یو پروګرام ئې تر اوسه نۀ دے پېش کړے. کوم پروګرامونه چې پېش کوي هغې کښې دغه د شمار یو څو تجزیه نګار او سیاسي مېلمانۀ وي او د یوې ګېنټې په ((ټاک شو)) کښې د سیاسي چرګانو د جنګ او قیاس ارایو نه علاوه هیڅ اهمه او نتیجه خېزه خبره نۀ کېږي. د مېډیا په دې جانثارو کښې یو کوربه داسې هم دے چې د هغۀ د پروګرام نه اول په ټي وي چېنل یو اعلان په سکرین په نظر راځي چې ئې لیکلي وي چې ((اداره د کوربه د رائې ذمه واره نۀ ده)).

د بي بي سي د علي سلمان وېنا ده چې داسې یوه دلچسپه تماشه ده کومې چې د پاکستان نه غالباً د دنیا هغه واحد ملک جوړ کړے دے چرته چې خلق د تفریح دپاره ((نیوز ټاک شوز)) ګوري کومې چې په پرائم ټائم کښې پېش کولے شي.




د روزنامه پاکستان مدیر اعلي مجیب الرحمان شامي وائي چې د بدتمیزۍ یو طوفان ئې په سر راخستے دے. سیاسي او ذاتي الزامونه په یو بل لګولے شي. کۀ څوک چاته کنځل کوي او کۀ بدرد وائي او ورله نوم د صحافتي ازادۍ کېښودے شوے دے. شاید د دوي د دې کارونو په وجه کله نا کله په چا د خفیه اېجنسو په ((پے رول)) کېدو الزام لګولے شي. د چا باره کښې وئیلے شي چې دې د طالبانو ملګرے دے او څوک د حکومت همراز ګڼلے شي. د بي بي سي د یو سینئیر صحافي محمد حنیف مطابق کله چې برېګېډئر ریټائرډ بِلا (امتیاز احمد) د کراچۍ یو لوئے ټي وي سټېشن ته ورسېدو

نو انټرویو کوونکي ورته ووې چې بریګیډیر صاحب نن داسې یو انکشاف وکړئ چې تاسو د دې نه مخکښې نۀ وي کړے. بریګیډیر صاحب د داسې صحافیانو یو فهرست پېش کړو څوک چې د هغۀ د ایجنسۍ په ((پے رول)) وو. خو د چېنل مالک د ادارتي ذمه وارۍ احساس وکړو او دا فهرست ئې نشر کېدو ته پرې نۀ ښودو.

بل اړخ ته د مېډیا مالکان دي چې وینې، اورونه، جنګونه او خودکُش حملې د داسې قسمه خلقو په ذریعه کېش کوي چې زیات خلق د هغوي چېنلې وګوري، زیات اشتهارات حاصل کړي او زیاته پیسه وګټي. کۀ داسې نۀ وي نو په بېن الاقوامي توګه منلو شوو اصولو باندې عمل ولې نۀ شي کولے او خپل سټاف له د جدیدو تقاضو مطابق تربیت ولې نۀ ورکوي؟

ماهر صحافت پروفیسر ډاکټر مهدي حسن ووئیل چې د کوربه اصل کار دا دے چې هغه په خپل پروګرام کښې د یو سیاسي شخصیت یا انتها پسند محض بیان واخلي، هغه وزن کړي او خلقو ته ئې وړاندې کړي چې خلق څۀ فیصله وکړې شي نۀ چې د هغې نه د اشتهار بازۍ ذریعه جوړه کړي.

بهر حال داسې خبره هم نۀ ده چې ټول کوربانۀ (اینکرز) او رپورټران د صحافت نه نابلده دي په دوي کښې یوه ډله د هغو اینکرانو ده چې ټول عمر ئې په پرنټ مېډیا کښې کار کړے دے او کله چې ناګهانه ټي وي چېنل ته راغلل او د دې ځائے پرق پړوق ئې ولیدو نو په خپل ځان ئې اختیار پاتې نۀ شو او داسې والوتل چې چا رامنع نۀ کړے شو. دوېمه ډله هغه دي چې د هغوي په پروګرام کښې هیڅ یو اخلاقي حد پائمالولے نۀ شي خو د بدقسمتۍ نه په دې وخت کښې داسې پروګرامونه مقبولیت حاصلولو کښې ډېر وروستو پاتې دي.

په دې کښې هیڅ شک نشته چې پاکستانۍ مېډیا ازاده او خودمختاره ده او دا یو خوشګوار بدلون دے خو چې د چرته نه د بل پوزه شروع کېږي هلته د دې ازادي ختمېږي. منو چې هر یو حکومت د مېډیا د تنقید نه ویره محسوسوي او د مېډیا د قابو کولو دپاره د پابندۍ حربه استعمالوي خو چې تر کومې دوي خپله خوداحتسابي نۀ کوي او په صحافت کښې ئې اصول، ضابطه او اخلاقي قدرونه نۀ وي نو معیار به ئې ضرور راپرېوځي او د هرې خوا نه به پرې تنقید کولے شي.

په ۲۹ اکتوبر ۲۰۰۹ د ټولو سیاسي ډلو د قامي اسمبلۍ د ممبرانو په مرسته د قومي اسمبلۍ قائمه کمېټۍ چې د اطلاعات او نشریات دپاره جوړه کړې شوې وه، حکومت ته سفارش وکړو چې د خودکُش حملو په براه راست کوریج او په صدر او عدلیه په تنقید کولو دې پابندي ولګولې شي. د حکومت دا وېنا څۀ وه چې ټي وي چېنلو ملک په سر واخستو اخر په پینځم نومبر وزیر اعظم ګیلاني صاحب د قومي اسمبلۍ په اجلاس کښې یقین ور کړو چې داسې هیڅ قدم به نۀ شي پورته کولے چې هغې سره د ذرائع ابلاغ ازادي تروړلې شي. د قائمه کمېټۍ دې سفارش سره دا وشوه چې د څو کالو د پرله پسې کوششونو باوجود چې ټي وي چېنلو کومه ضابطۀ اخلاق نۀ وه جوړه کړې هغه ئې په یو څو ورځو کښې تیاره کړې شوه.

په پنځم نومبر ۲۰۰۹ اتو پرائیوېټ ټي وي چېنلې اخرکار په یوه ضابطۀ اخلاق جوړولو متفق شو، په کومه کښې چې د ناظرینو د فائدې تر مخه

دا فیصله وشوه چې د دهشت ګردی د واقعاتو د کوریج په وخت به د احتیاط نه کار اخستے شي. د دې ضابطې مطابق به په خودکُش حملو کښې مړهٔ شوي یا سخت ژوبل شوي کسان نهٔ شي ښودلے او نهٔ به په موقعه د موجودو عینې شاهدانو جذباتي قسمه بیانونه نشر کولے شي او چې چرته ضروري وي نو د داسې منظرونو د براه راست حذف کولو نظام به ترتیبولے شي او چې کله څوک یرغمال کړې شوي وي نو د داسې اطلاع ورکولو نه به ډډه کوي د کومې نه چې اغوا کارو ته فائده رسي. کومو اتو چینلو چې دا ضابطه جوړه کړې ده په هغې کښې جیو ټي وي، آج ټي وي، ایکسپریس نیوز، 7-24، ډان نیوز، اے آر وائي، سندهي چینل، کے ټي این او سماء ټي وي شامل دي او وقت نیوز او نیوز ون په دې کښې شامل نهٔ دي.

د ټي وي چینلو ټاپ مېډیا منیجرانو دا هم ووې چې د بم چاودنو د بریکنګ نیوز ورکولو نه مخکښې به خبر په ښه طریقه کتلے شي. خو د دې خبرې په سبا په یو ټي وي چینل بریکنګ نیوز وچلېدو چې پنډۍ کښې د بم چاودنه وشوه او اصل خبره دا وه چې هغه بم چاودنه نهٔ وه بلکې په یو ګاډي کښې د ګیس سلنډر چاودلے وهٔ. کېدے شي وخت تېرېدو سره د داسې قسمه خبرونو نه خلق خلاصے بیامومي.

پرائیویټ چینلو چې کومه ضابطهٔ اخلاق جوړه کړې ده کهٔ په هغې عمل وکړي نو بهترینې نتیجې ترې راوتې شي خو ورسره د پېشه ورانه معیار ښهٔ کولو دپاره نور ډېر اهم اقدامات کول هم ضروري دي. مثلاً اینکرانو له ډېره زیاته ازادي ورکړې شوې ده، هغوي چې په خپل پروګرام کښې څنګه غواړي د خلقو کردار کُشي او بې عزتي کوي. تر دې دمه ټولې ټي وي چینلې د هغو صحافتي مسلمه اصولو ښکاره خلاف ورزي کوي په کومو چې د ټولې دنیا مېډیا اتفاق کړے دے. د مثال په طور د دروغ خبر چلول او بیا معذرت نهٔ کول، چا سره چې جنسي زیاتے شوے وي هغې پسې کور ته سره د کېمرې ورتلل او هغه په ټي وي ښودل، د اسمبلۍ د یوې زنانه ممبرې په بله جنسي قسمه الزامات لګول او د چینلو دغه په فخریه توګه پېش کول، د پاکستان د یوې فلمي اداکارې د واده سکینډل په سلسله کښې داسې کلپ چلول چې په کښې هغه په صوفه کښې په یو صحافي راټیټه شوې ده او کله ورله په اوږه لاس ږدي او کله ورله په سینه. د دې کلپ په شروع کښې دغې اداکارې خواست کړے دے چې مهرباني وکړئ، کېمره بنده کړئ خو هغې له د دروغو یقین دهاني ورکړې شوې ده. یوه بله واقعه داسې ده چې په هغې کښې نیوز کاسټر بریکنګ نیوز ورکوي وائي چې اوس اوس تاسو ته مونږ یو بریکنګ نیوز درکړے وهٔ چې معروف شاعر احمد فراز وفات شو خو اوس تازه ترین خبر دا دے چې هغه ژوندے دے.

د پاکستان فیډرل یونین آف جرنلسټس د یو عهدېدار وینا ده چې د ټي وي چینلو د ضابطهٔ اخلاق جوړولو په وخت د ټریډ یونین سره هیڅ مشوره نهٔ ده شوې. بیا هم د هغهٔ وینا وه چې هغوي حکومت سره په شریکه یو داسې کونسل جوړوي چې په کښې به د ژوند سره د تعلق لرونکو مختلفو شعبو نامتو غړي شاملولے شي او هغوي به د ټي وي چینلو خلاف شکایتونه اوري.

کهٔ صحافیان د خودفریبۍ نه راونهٔ وځي او د خپل ځان د احتساب کولو دپاره یو کوټلے نظام جوړ نهٔ کړي نو هر راتلونکے حکومت به په صحافتي ازادۍ د پابندۍ لګولو دړکې ورکوي.

(د هم شهري نه ترجمه)